ملګری ملتونه

# عمومی اسمبله

د بشری حقونو شورا
دیارلسمه غونډه
د اجنډا ۲۰ ماده

## د ملګرو ملتونو د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر کلنۍ راپور
## او د عالي کميشنر ددفتر او د سرمنشي راپورونه

## په افغانستان کې د بشري حقونود حالت او د بشري حقونو په ډګر کې د تخنيکی ملاتړ
## د لاس ته راوړنو په اړه د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر راپور

**لنډيز**

اوسنی راپور د بشري حقونو د شورا د ۲۰۰۶ کال د نومبر د میاشتې د ۲۷ نېټې د ۲/۱۱۳ پریکړې له مخې وړاندې شوی دی چې په افغانستان کې د بشري حقونو اوسنی حالت څیړي او داسې وړاندیزونه لري چې د بشري حقونو بیلا بیلو ستونزو ته ځواب وایي. دغه راپور همدارنګه د بشري حقونو په ډګر کې د تخنیکي ملاتړ د لاس ته راوړنو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

۲۰۰۹ کال د افغانستان لپاره ستونزمن و، ځکه چې په سختۍ سره لاس ته راغلې برياوې، په ځانګړې ډول د بشري حقونو په ډګر کې له خطر سره مخامخ وې. د دولت جوړونې د پروژې په برخه کې باور او ویسا راټیټه شوه ځکه چې ډیری افغانانو د منتخبو چارواکو او د هغوی د نړیوالو همکارانو دا ژمنه تر پوښتنې لاندې راوستله چې د هغوی اساسي حقونه او آزادۍ وساتي.

د وسله والو نښتو تدریجي زیاتوالی او خپریدنه ددې لامل وګرځید چې د ملکي تلفاتو شمیره د طالبانو د رژیم تر ماتې وروسته چې د ۲۰۰۱ په پای کې ترسره شوه زیات او د بشري مرستو فضاء لا پسې ویجاړه شوه. په داسې حال کې چې وسله وال مخالفین د زیاتو ملکي تلفاتو مسوولیت لري خو د دې سره د هغو وژنو او مرګونو شمیره هم زیاته ده چې د نړیوالو ځواکونو د هوایي بریدونو په نتیجه کې د یوې دوامداره مسلې په توګه پاتې ده. که څه هم د نړیوالو ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو د کمښت په هکله نوې تاکتیکی لارښودونې تصویب شوې دي او ښکارې چې په دې برخه کې یې مثبته اغیزه کړې ده. هغه بریدونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره کیږي په زیاته پیمانه خشونت یې په تیره بیا د جمهوري ریاست او ولایتی شوراګانو د ټاکنو پرمهال چې د ۲۰۰۹ په اګست کې ترسره شوې رامنځته کړ. د جمهوري ریاست ټاکنې لکه چې ولیدل شوې په زیاته پیمانه یوه نیمګړې پروسه وه او د دولت په وړاندې ملاتړ او باور لاپسې کمزوری کړ او همدارنګه د نړیوالو همکارانو او د بن د موافقې وروسته د دولت جوړونې د پروژې په وړاندې دغه اعتماد راپریوت.

په داسې حال کې چې د دولتي مقاماتو لپاره په ګڼه شمیره کې ښځې د ټاکنو په پروسه کې ودریدلې وې، په عام ډول د ښځو به وړاندې ګواښونه او د جنسي تیری جرمونه د بشري اندیښنو په ډګر کې د یوې جدي ستونزې په توګه پاتې دي. د شیعه شخصیه احوالو د قانون تصویب چې د ښځو په وړاندې تبعیضي روشونو ته قانوني بڼه ورکوي چې دا د ښځو د حقونو په اړه په شا تګ دی. په پراخه پیمانه د معافیت شتون په افغانستان کې اغیزمنه حکومتداري تر پوښتنې لاندې راولي. د هغو جرمونو په اړه چې د دولتي قدرت او واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې اوږد تاریخ لري د حساب ورکوونې په اړه لږ پرمختګ تر سره شوی دی. ژور نالستان او د رسینو کارکوونکی د خپل مسلک سره سم د کار کولو له امله تر ګواښ او تهدید لاندې دي. د ډیرې زیاتې بې وزلۍ د شرایطو له امله د افغاني وګړو یوه پر دریمه برخه اغیزمنه شوې ده چې د جګړې د زیاتوالی د دولتي واک څخه د ناوړه ګټه اخیستنې او د فساد راوړونکی معافیت په وجه دغه حالت لا هم د ویجاړتیا پر لور درومي.

د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنرۍ دفتر (آو ایچ سي ایچ آر) د بهرنیو چارو د وزارت سره مرسته کړې ده چې د بشري حقونو د شورا د عمومي نوبتي څیړنې لپاره خپل راپور وړاندې کړي. د لوړ کیفیت درلودونکی دغه راپورد بشري حقونو په اړه د واقعي او ریښتونی حالت په

وړاندې کولو سره د نورو دولتونو له خوا ستايل شوی دی چې دا په متوازن ډول د بشري حقونو په برخه کې د پرمختګ او همدارنګه په افغانستان کې د پرلپسې ننګونو د شتون ښکارندويه دی. د بشري حقونو لپاره دعالي کميشنری دفتر د نورو هغو تخنيکي مرستو په برخه کې بوخت دی چې تفصيلات يې په دې راپور کې راغلي دي چې په کې د عدليې وزارت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون سره مرستې شاملې دي.

**محتویات**


I. پیژندګلوي
II. د ملکي وګړو ساتنه
a. دولت ضد عناصر
b. دولت پلوي ځواکونه
c. د جګړې له امله توقیف

III. د ښځو حقونه
IV. انتقالي عدالت
V. بې وزلي او بشري حقونه
VI. د دموکراسی نیمګړتیاوې
a. ټاکنې
b. د بیان آزادي

VII. موسساتي ظرفیت
a. د موسسې جوړول
b. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د مربې ګیرۍ پروګرام
c. د عدلیې وزارت
d. دوهم اقدام، تعقیب او څارل

VIII. پایلې
IX. وړاندیزونه

## I. پيژندګلوي

۱.	دغه راپور د بشري حقونو د شورا د ۲/۱۱۳ لمبر پريکړې په تعقيب وړاندې کيږي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوی (يوناما) سره په همکاری کې چمتو کړای شوي دي. زما د وروستني راپور را په دې خوا په افغانستان کې د بشري حقونو حالت لا زيات د ننګوونو سره مخ دی، په تيره بيا د وسله والې نښتې، د ژور او هميشني معافيت، د يوې داسې ټاکنيزې پروسې له امله چې د اعتبار وړ نه وه او د درغليو د تورونو له امله ترپوښتنې لاندې راغلې او د اعتبار پريو تې ده او د ښځو په وړاندې د پرلپسې تبعيض د شتون له کبله دغه ډول ننګوونې دي. افغانان د خپلو بشري حقونو څخه د برخمن کيدنې په لار کې د زياتو ستونزو سره مخ دي ځکه چې هيواد د وسله والې جګړې د ميراث او جاري واقعيت سره مخ دي او د ديموکراتيزه کيدو او دولت جوړونې په پروسه کې يې لاسه ته راوړنې محدودې دي.

۲.	په ۲۰۰۹ کې افغانستان د سياسي ناوتريخوالی او داسې خشونت سره مخ شو چې په تير نږدې وخت کې يې ساری نه درلود. د هغو مهمو نوښتنو سره سره چې د ملکی تلفاتو د مخنيوي په برخه کې ترسره شول د ملکي تلفاتو زياته شميره چې په ۲۰۰۱ کې د طالبانود رژيم د پرزيدنې وروسته ثبت شوه، ترټولو زياته وه. هغه مارپيچې ډوله تاوتريخوالی چې د جمهوري رياست لپاره د ټاکنو پرمهال رامنځته شو نا امني وروسته زياته شوه او د هيوادوالو د ساتنې او ژغورنې په برخه کې د دولت د ناتوانی او قابليت د نشتوالی په اړه يې انديښنې ډيرې کړې. د ټاکنو دنيمګړتياوو له امله هم د دموکراتيکې پروسې په اړه اعتبار او باور ته جدي تاوان ورسيد او د دولت اعتبار او د هغه د نړيوالو پلويانو ملاتړ يې تر پوښتنې لاندې راوستل.

۳.	د کمزوری حکومتداری او ناقانونی شتون او د جګړې شدت د دې لامل شول چې د بې وزلی اندازه خورا زياته شي چې د دې سره د افغانستان د وګړو ۳۶ سلنه مخامخ دي. د افغانانو هيلو او غوښتنو ته ځواب نه دی ويل شوی. دلته ده چې د عادلانه، اغيزمن او د حساب ورکولو پر بنسټ ولاړې حکومتداری ته اړتيا ده څو د دولتي قدرت څخه د ناوړه استفادې جوړښتونه او د معافيت فرهنګ ته د پای ټکی کيښودل شي، څو چې افغانان وکولای شی د داسې بنسټيزو حقونو څخه لکه د روغتيا، خواړو، پوهنې او سرپناه حقونه تر لاسه کړای شي.

۴.	د شعيه شخصيه احوالو د قانون تصويب په افغانستان کې د ښځو د حقونو په برخه کې شاته قدم وو. دولتونه د نړيوال قانون پر بنسټ مسووليت او دنده لري چې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی پای ته ورسوي او دغه قانون د افغانستان د هغو ژمنو سره چې د نړيوال قانون او نورو هغو مترقي قوانينو چې په دې وروستيو کې د ښځو په وړاندې د خشوت د مخنيوي په ډګرونو کې دولت تصويب کړي دي په سمون کې نه دي اوسره تناقض لري. نو له همدې کبله ما په پوره قوت سره د دې وړانديز درلود چې دغه قانون بايد منسوخ شي. د عدلي سيستم د ځواکمنتيا او د قانون د حاکميت د تقويې په برخه کې لږ پرمختګ شوی دی چې دا په افغانستان کې د معافيت د زاړه فرهنګ سره د مبارزې لپاره ډير ضروري لومړنی شرط دی څو چې عدالت ته رسيدنه او په دولتي موسسو باندې د باور د راژوندي کولو لپاره زمينه برابره شي. همدارنګه په باوري توګه د انتقالي عدالت د رسمي اجنداء د تعقيب او په ښکاره توګه د بشري حقونو څخه سرغړونو ته د پای د ټکي د ايښودلو لپاره د حساب ورکونې نه شتون هم د پام وړ ستونزې دي. يو ځل بيا هم دا په ۲۰۰۹ کې جوته ده چې د هغو ميکانيزمونو او طرز العملونو سمون په کار وو چې دولتي واک ته

د هغو ناوړه قدرتمندانو   چې  د بشري حقونو څخه سرغړوونکي دي د رسیدنې مخنیوی شوی وای. تر هغو پورې چې دغه دولت اقدامات نه وي ترسره شوي نو د هغو ننګونو سره چې افغانستان ورسره مخ دی او په دې کې د قدرت او واک څخه ناوړه استفاده او معافیت، بې عدالتي او بې وزلي شامل دي د مقابلې لپاره هر دولت هلې ځلې به د ناکامۍ سره مخ وي.

### II. د ملکي وګړو ساتنه او تحفظ

۵.      په ۲۰۰۹ کې په افغانستان کې وسله واله جګړه تیزه شوه چې ورسره د ملکي تلفاتو کچه لوړه، د شتمنیو ویجاړتیا، د معیشت له منځه تلل او د بشري فضاء خرابوالی زیات شول. د جګړې خپراوي تر زیاته حده په زیانمنېدونکو کسانو لکه ښځو او ماشومانو اغیزه وکړه، په دې دولت یې بنسټیزو خدماتو ته د روغتیا، پوهنې د سکتور په شمول د هغوي رسیدنه محدوده کړه، په تیره بیا په هغو سیمو کې چې یووخت هغه په نسبي توګه با ثباته کنټل کیدلې.

۶.      یوناما د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنرۍ د دفتر سره یو ځای د ساتنې په ګډه ځانګه کې چې په ۲۰۰۸ کې د بشري مرستو د ټولنې له خوا جوړه شوې ده هم د مرستیال مشر او هم د لومړنی واحد په توګه چې د ساتنې او ژغورنې د هغو چارو لپاره مسوولیت لري چې پر ملکیانو باندې د جګړې د مستقیمو او سملاسي اغیزو څخه زیانمن کیږي، تمرکز لري، کار کوي. د ساتنې او ژغورنې د برخې د کلیدي غړي په توګه د یوناما د آو ایچ سي ایچ آر دفتر د دې لپاره هڅه کړې ده چې د ساتنې او ملا تړ چارو ته په نورو سکتورونو کې هم لاره پرانیزي او د بشري مرستو د عمل د کړنلارې لپاره د تحفظ او ملاتړ د اړوندو پروژو دلومړیتوبونو لپاره په فعاله توګه یې کار کړی دی.

۷.      دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو په زیاته پیمانه داسې عملیات ترسره کړي چې د ملکی وګړوژوند یې له ګواښ سره مخ کړ. په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم له را نسکوریدو را وروسته ۲۰۰۹ کال د ملکي وګړو د وژنو په برخه کې تر ټولو زیات د مرګونو ډک کال وو، چې د ټاکنو په اړوند د تاوتریخوالی له امله د اګست میاشت د کال تر ټولو زیاته مرګونې میاشت وه چې همدارنګه د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی په دې کې شامل دی، چې ۳۳۳ ملکي وګړي پکې تلف شوي دي. د نړیوال بشردوستانه قانون د حکم له مخې په جګړه کې اخته اړخونه دا مکلفیت او مسوولیت لري چې ملکی وګړي د جګړې د اغیزو څخه وژغوري. په جګړه کې اخته دواړه خواوې باید د جګړې مقررات او اصول مراعات کړي څو ملکي وګړي د نښتې پرمهال د جګړې له ناورین او ګوزار څخه خوندي وي.

۸.      د ۲۱۸۶ تلفاتو له جملې څخه چې د ۲۰۰۹ له جنورۍ څخه تر نومبر پورې ثبت شوي دي ۶۹ سلنه یي هغه تلفات دي چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي او ۲۳ سلنه یې دولت پلوه ځواکونو ته. پاتې ۸ سلنه یې هغه تلفات دي چې د نښتې پر یو اړخ پورې منسوب کیدلای نه شي، ځکه چې ځینې ملکي وګړي د غیر عمدي او نا مشخصو لاملونو په نتیجه کې مړه شوي دي. دغه شمیرې ۸ سلنه نسبت و هغو ثبت شوو تلفاتو ته څرګندوي چې د ۲۰۰۸ کال د همدغې مودې لپاره و.

**الف. د دولت ضد عناصر**

۹. د دولت ضد عناصر د کال په اوږدو کې د ملکي تلفاتو د زياتې برخې مسووليت درلود چې د ۲۰۰۹ د جنورۍ څخه تر نومبر پورې د ۶۹ سلنې د ملکي وګړو وژنه ده. په سلو کې ۶۶ سلنه وګړي د بې توپيره ځانمرګي او د تعبيه شوو چاودېدونکو وسيلو د بريدونو، د پرلپسې بې تناسبه بريدونو له امله چې د افغاني ملکي اتباعو تر منځ د وژنو زياته برخه جوړوي، وژل شوي دي. همدارنګه دا د ډېرې انديښنې وړ وه چې ددولت ضد عناصرو په لوړه کچه او په سيستماتيک ډول هغه ملکي افغانان چې د افغانستان د دولت او د نړيوالو وسله والو ځواکونو سره کار کوي تر ګواښ، تهديد، اختطاف لاندې راوستي دي او يا هم د وژونکو بريدونو هدف ګرځېدلي دي. روغتيايي کارکوونکي، ښوونکي، ژورنالستان او د ساختماني چارو کارکوونکي د نورو ډلو ترمنځ شامل و، چې هغوي هميشه د دولت ضد عناصرو له خوا تر هدف لاندې راغلي دي.

۱۰. له هغه ځايه چې نړيوال وسه وال ځواکونه او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د دولت ضد عناصرو د فعاليتونو لومړنۍ موخه دي، ډېرى وختونه دغه بريدونه په متواتر ډول د ملکي وګړو د ګڼې ګوڼې په ځايونو کې د بيلګې په ډول په بازارونو، او په مصروفو سړکونو باندې ترسره شوي دي چې په څرګند ډو ل د ملکي وګړو ژوند او د هغوي ملکي شتمنۍ ته د تاوان رسول په پام کې نه دی نيول شوي. د ۲۰۰۹ د سپتمبر په ۲۹ نېټه لږ تر لږه ۳۰ تنه هغه وخت مړه او ۱۹ تنه ټپيان شو کله چې د دوي د سپرلۍ بس په هغه تجارتي لاره دسړک د غاړې پر تعبيه شوي چاودېدونکې وسيلې وربرابر شو چې د کندهار د ولايت د ميوند د ولسوالۍ څخه تريدلو. د کابل په ښار کې د نړيوالو وسله والو ځواکونو پر ضد څو بريدونه وشول چې په کې ملکي وګړي ووژل شول چې په دې کې د سپتمبر د مياشتې هغه مرګوني بريد هم شامل دی چې د نړيوالو مرستندويه امنيتي ځواکونو (ايساف) د کتار پر ضد د کابل د هوايي ډګر په سړک ترسره شو، چې د راپور له مخې په دغه بريد کې ۲۰ ملکي کسان مړه او ۴۵ تنه ټپيان شول. طالبانو د دغې پېښې مسووليت ومنلو. د دولت ضد عناصرو عمليات چې په کليو او نورو محلاتو کې چې هلته ملکي وګړي اوسيدل تر سره شوي چې دې هم ملکيانو ته جدي او زيات خطر متوجه کړى دى.

۱۱. د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د ټاکنو پرمهال چې د ۲۰۰۹ په اګست کې ترسره شوې شرايط زيات نا امنه و، لکه چې د دولت ضد عناصرو د نوماندانو، د ټاکنو د چارو د کارکوونکو پر خلاف بريدونه، تهديدونه او ګواښونه ترسره کړل چې موخه يې د ټاکنې د پروسې ناکامول او حتى په هغو سيمو کې چې د دې ترمخه د جګړې له امله لږې اغيزمنې شوې وې د رايه ورکوونکو د رايه ورکوونې څخه ليرې کول و. نږدې ۳۰۰ پيښې يوازې د ټاکنو پر ورځ ترسره شوې. د اګست په ۱۵ نېټه د راپور له مخې ۷ تنه ملکي وګړي ووژل شول او لږ تر لږه ۹۰ ټپيان شول کله چې د ايساف د مرکز د باندې يو ځانمرګي بريد ترسره شو، په داسې حال کې چې په موټر کى د تعبيه شوى چاودېدونکى مواد په بريد کې چې د اګست د مياشتې په ۱۸ نېټه په کابل کې د فيونيکس د کمپ ترڅنګ وشو او په دغه چاودنه کې ۷ تنه مړه او ۵۰ نور ټپيان شول. په وروستني بريد کې د ملګرو ملتونو دوه کارمندان ووژل شول او يو تن هم ټپى شو. د اکتوبر د مياشتې په وروستيو کې د هغه سياسي تشنج له امله چې د جمهوري رياست د ټاکنو د پايلو د اعلان د زيات ځنډ له امله رامنځته شو، د دولت ضد عناصرو په کابل کې يو سوداګريز ميلمه ستون تر بريد لاندې و نيولو، ۸ تنه ملکي وګړي يې د ملګرو ملتونو د ۵ تنو کارکوونکو په

ګډون ووژل او ګڼ شمیر یې ټپیان کړل. دا هغه ناوړه او عمدي برید وو چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پر ضد د وسله والې جګړې د پیل څخه تر اوسه پورې ترسره شو.

۱۲. په جنوب او جنوب ختیځ کې د امنیتي ناوړه حالت او د مرکزي، شمال ختیځ او لویدیځ د سیمو بیلا بیلو ولایتونو ته د جګړې خپریدو ډیرې جدي بشري پایلې درلودلې. د ملکی وګړو د وژنې، ټپي کیدنې، د معیشت د له منځه تللو، د شتمنیو د تخریب بې ځایه کیدنې او بنسټیزو خدمتونو ته د نه رسیدنې سره سره ډیرو موسسو خپل د بشري مرستو عملیات د نا امنیو او لا قانونیت د زیاتیدو له امله مختصر کړل.

۱۳. طالبانو ته د زیاتو بلنو سره سره چې په ۲۰۰۸ کې د عدالت پرته ، پخپل سر هغو اعد ا مونو دبندولو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړی راپور ورکوونکي د کتنې په تعقیب ترسره شوې ځو هغوي نړیوال بشردوستانه قانون ته درناوي وکړي چې د دې سره هم په بې توپیره بریدونو کې په ۲۰۰۹ کې د پام وړ زیاتوالی ولیدل شو.

**ب. دولت پلوه ځواکونه**

۱۴. دولت پلوه وسله واله ځواکونه د ۲۰۰۹ کال د جنوری څخه تر نومبر پوری د ۲۳ سلنې ملکي وګړو د وژنې مسوولیت لري چې په دې کې په هوایي بریدونو کی د ملکي وګړو د وژنې ۶۰ سلنه جوړوي چې دولت پلوه ځواکونو عملیاتو ته منسوب دي او دا د ټولو ملکی وژنو ۱۴ سلنه ده. هوایي بریدونو ادامه موندلې او د یوه مرګانی تاکتیک په څېر چې د حکومت پلوه قواوو له خوا کارول کیږي د عامو خلکو غبرګون یې پارولی دی خاصتا د هغو هوایي بریدونو وروسته چې زیات ملکي خلک په کې ووژل شول، خاصتا ښځې او ماشومان.

۱۵. د دې اړتیا لا اوس هم شته چې آی ایم ایف باید د دې قضیو د پلټنو په وخت کې له ډیر شفافیت څخه کار واخلي. په خاص ډول، د هوایي بریدونو دوه قضیې ډیرې مهمې وې چې ډیر ملکي تفات یې درلودل. د المان د حکومت څو تنه لوړ رتبه مسوولینو، د لوې درستیز او د دفاع وزیر په ګډون د هغو تورونو له امله استعفاء ورکړه چې د ملکی تلفاتو د شمیر په باب ویل شوې وو، چې د بین المللي نظامي قوتونو د هوایي بریدونو په پایله کې هغه مهال رامنځ ته شوې کله چې د ۲۰۰۹ د سپتمبر په ۴ طالبانو په کندز کې د افغانستان په شمال ختیځ کې د تېلو ټانکر یرغمل ونیو. څرنګه چې د ملکي اشخاصو او جنګي کسانو د تلفاتو په منځ کې توپیر کول ګران و، ممکنه نه وه چې د ملکي تلفاتو شمیر په دقیق ډول معلوم شي. سره له دې هم یوناما اټکل کوي چې په ملکي تلفاتو کې ۴۰ په سلو کې ماشومان وو. د مې په ۴ په یوه هوایي برید کې د بالا بلوک ولسوالی د فراه په ولایت کې ۶۴ ملکی کسان ووژل شول. که څه هم د امریکا نظامي قوتونو منلې ده چې و یې نه شو کولای چې د داخلي نظامي لارښوونو سره سم عمل وکړي، له حملې څخه مخکې یوې معقولې ارزونې کولای شوای په ډاګه کړي چې ایا کیدای شي ملکی کسان په نا متناسب ډول زیان وویني او ایا مناسبه وه چې په یوه ساحه باندې بمباري وشي چیرې چې خلک مېشته وي.

۱۶. د بین المللي نظامي قوتونو ښېس په ښاري سیمو کې لکه کابل او د ځینو نورووولایتونو په مرکزونو کې د پخوا په شان د اندیښنې خبره ده. د دغو مرکزونو موجودیت په ښاري سیمو کې

ښايي د بين المللي بشردوستانه قانون د قبلي احتياط له اصل سره ټکر وکړي چې هدف يې دا دی چې ملکی کسان د نظامي عملياتو څخه د راولاړېدونکو خطرونو څخه وژغوري.[1] ډېر واړه مرکزونه له افغان امنيتي قواوو سره يو ځای پراته ي او کله له ولايتي چارواکو سره يو ځای وي چې د اوسيدونو د ځايونو په منځ کې وي. د مثال په ډول د امريکا د نظامي قواوو په باب انديښنه ښودل شوې ده چې په نيمروز کې د دلارام په بازار کې د ولسوالۍ ودانۍ ته نږدې پراته دي. په دې کار سره دوی د هغو کسانو په باب بې ځآيه پلټې کوي چې له ولسوال سره ويني، د بيس په وړاندې د ځانمرګو بريدونو امکان ډيريږي او ټولنه د حکومت ضد عناصرو له خوا هدف ګرځي په دې پلمه چې بين المللي نظامي قوتونو ته جاسوسي کوي. مهمه خبره ده چې ايساف او حکومتي چارواکي له متاثره شويو خلکو سره کار وکړي او وګوري چې دوی به دې باب چې دغه مرکزونه په ملکي کسانو څومره اغيزه لري او څومره د دې امکان شته چې دغه ټولنې د حکومت ضد عناصرو له خوا د بريدونو هدف وګرځوي، څه انديښنې لري.

۱۷. د بين المللي نظامي قوتونو له خوا ځينې مثبت ګامونه پورته شوي چې د ملکي تلفاتو اندازه راټيټه کړي. په دې اقداماتو کې هغه هڅې شاملې دي چې د ايساف او OEF تر منځ د قوماندې په ورکولو کې شفافيت پيدا شي. د OEF قواوې اوس د ايساف تر قوماندې لاندې عمليات کوي او د ايساف او په افغانستان کی د امريکايي ځواکونو د ملکی تلفاتو د پيدا کولو د تعقيب څانګې دې چې دې قوتونو ته منسوب د ملکی تلفاتو په باب شکايتونه اوري. په دې سربيره د ۲۰۰۹ د جولاي په ۲ نېټه د نويو تاکتيکونو لارښوونه شوې ده چې د ملکی تلفاتو شمير راکم کړي او له ملکي خلکو څخه زياته مرسته غواړي، په خاص ډول د قوې کارول محدود شي په تېره بيا په هغو ځايونو کې چې خلک پکې اوسي او په داسي شرايطو کې چې بين المللي قواوو ته کوم دايمي خطر پکې موجود نه وي. دغه ډول محافظتي اقدامات د ملګرو ملتونو د خاص راپورتر هغه غوښتنه منعکسوي چې تر هوايي بريدونو او په کورونو له حملې څخه مخکې په هغه ضرورت ټينګار کوي چې معلومات بايد کره شي څو ملکي کسانو ته کم زيانونه ورسيږي او د دې تاکتيکونو په وړاندې د عامه خلکو له غبرګون څخه مخنيوي وشي.

۱۸. د نورو انديښنو ترڅنګ چې د ملکی تلفاتو په اړوند شته يوه يې دا ده چې د مختلفو ملکونو ترمنځ چې عسکر يې دلته موجود دي په دې باب يوه همغږي او هم نظري نشته چې قربانيانو ته د جبران ورکولو په اړوند يوه پاليسي اختيار کړي او دغه راز ملکي کسان هغو پروګرامونو ته لېږ لاس رسي لري يا ترې خبر نه دي چې د غم شريکي او خواشينۍ په منظور تصويب شوې دي.

### ج- په شخړو پورې تړلي توقيفونه

۱۹. په شخړو پورې مربوط توقيفونه لا تر اوسه هم د انديشنې وړ خبره ده، ځکه داسي يو قانوني چوکاټ نشته چې د ملي او بين المللي قوانينو له مخې د افغانستان له مسوولیتونو سره سمون ولري. آو ايچ سي ايچ آر او يوناما له مربوطو مخصوصو راپورترانو څخه غوښتنه کړې ده چې دغه پوښتنه تر غور لاندې ونيسي چې د مختلفو نظامي قوتونو تر ولکې لاندې توقيفونو څخه توقيفيان څنګه افغاني توقيف ځاينونو ته انتقاليدای شي. د افغانستان په عدلي سيستم کې توقيفيانو ته

---

[1] بايد وويل شي چې د کوپيرنيکيچ په قضيه کې د پخوانی يوګوسلاويا لپاره بين المللي جنايي محکمې ويلی دی چې دغه اصل د بين المللی عرفي قانون يوه برخه ده. پراګراف ۴۶

ډېر ځله دا حق نه دې ورکړل شوی چې په منفصفانه ډول محاکمه شي او ډېر ځله له دې څخه منع شوي دي چې له خپلو وکیلانو سره وګوري. دغه راز تورونه هم شته چې افغان امنیتي ځواکونو له شکنجې څخه کار اخیستی دی. دغه ټول کارونه د افغانستان له هغو مکلفیتونو سره ټکر خوري چې د بین المللي بشري حقونو په وړاندې یې لري. د امریکا اداري په وروستیو وختونو کې د اعلان کړی دی چې د امریکا د پالیسي په دې جنبه باندې غور کوي چې د بګرام په توقیف ځای کې د توقیفیانولپاره دغه امکان برابر کړي چې د توقیفیانو د کتنې د هیئت په وړاندې د خپل توقیف د قانونیت پوښتنه وکړي، د دې په ګډون چې شواهد وړاندې کړي او شاهدان راوغواړي. د امریکا په پالیسي کې د توقیفیانو په باب دغه سمونې د تقدیر وړ دي، مګر دغه اصلاحات باید له هغو اصلي ضمانتونو سره سمون ولري چې توقیفیانو ته د دې د یوې داسې معقولې لارې تضمین کوي چې دوي وکولای شي د دوي په وړاندې تورونه چیلنج کړي. د توقیفیانو د هوساینې او دغه راز د توقیف په باب د امریکا د پالیسۍ د مشروعیت لپاره به ګټوره خبره دا وي چې د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون لپاره دا امکان برابر کړي چې د دوي له توقیف څخه کتنه وکړي.

## III. د ښځو حقونه

۲۰. ښځو د ۲۰۰۹ کال د اګست په ټاکنو کې چې ولسمشري او ولایتي شوراګانو لپاره وشوې د تیرو ټاکنو په پرتله زیاته برخه اخیستې وه. سره له دې بیا هم د دولت مسوولیت چې د ښځو حقونه وساتي او پرمختګ ورکړي او په خاص ډول د ښځو په وړاندې د خشونت مخنیوی وکړي لا تر اوسه هم یو جدي ګواښ دی. په ۲۰۰۹ کې یوه مهمه مساله دا وه چې د نوی قانون او د افغانستان د اساسي قانون او بین المللي مکلفیتونو ترمنځ د ښځو د حقونود ساتنې او انفاذ په رابطه اختلاف موجود و.

۲۱. د شعیه د شخصي احوالو قانون چې شعیه ټولنې شخصي چارې لکه واده، طلاق د میراث حقونه اداره کوي او د افغانستان داساسي قانون په ۱۳۱ ماده باندې تکیه کوي. شعیه ټولنه د نفوسو نږدې ۲۰ په سلو کې جوړوي. د شعیه ګانو لپاره د دې قانون تصویب په عموم ډول داسې تعبیر شوی دی چې ګویا ولسمشر د دې لپاره تایید کړی دی چې د هغه وخت د راتلونکوټاکنو لپاره د محافظه کاره عناصرو ملاتړ تر لاسه کړي. وروسته له هغه چې د قانون په ځینومادو باندې په ملي او بین المللي کچه نیوکې وشوې، ځکه چې په ښکاره ډول د اساسي قانون (۲۴ او ۵۴ مادې) سره یې مغایرت درلود، او بین المللي قانوني مکلیفیتونه یې چې د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو په بین المللي کنوانسیون کې ذکر شوي او افغانستان په ۲۰۰۳ کې لاسلیک کړی دی، او دغه راز د مدني او سیاسي حقونو په بین المللي تړون او د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په بین المللي تړون کې راغلي او افغانستان په ۱۹۸۳ هغه منلې دی، نفې کوي. د دغو مادو له مخې ښځه اړ ده چې په جنسي چارو کې، د طلاق په نا برابرو حقونو، د ماشومانو ساتنه او پالنه، میراث او د ملکیت څخه استفاده کولو او د ښځو د ګرځېدو په باب په محدودیتونو کې د خاوند تابع و اوسي.

۲۲. په تعدیل شوي قانون کې چې د ۲۰۰۹ په جولای کې د ولسمشر له خوا توشیح شو، ځینې موادو موجود و چې انتقادونه راوپارول. تر ډیره حده دغه مادې حذف شوې نه دي خو بیا له سره په نورو الفاظو کې لیکل شوې دي. د مثال په ډول د اختلاف وړ ماده چې ښحه باید د مېړه جنسي غوښتنې پوره کړي، حذف شوې ده. خو افغان قانونپوهان په دې نظر وو چې ۶۲ ماده د تعدیل

شوي قانون کېدای شي د مېړه له خوا داسي وکارول شي چې کولای شي د ښځې له مصرف ورکولو څخه انکار وکړي که ښځه د ده هغه غوښتنه و نه مني چې دی فکر کوي د هغه د جنسي اړیکو حق ګڼل کیږي.

۲۳. د شعیه ګانو لپاره قانون د دې په ځای چې ضررناک دودیز عملونه او رواجونه چیلنج کړي په دې خدمت کې دي چې هغو کارونو ته مشروعیت ورکړی چې د ښځو په زیان دي. څرنګه چې دغه قانون په افغانستان کې د شعیه ښځو او نجونو حقونه په مستقیم ډول تر اغیزې لاندې راولي، په احتمالي ډول د دې لپاره لار هواروي چې د ټولو افغان میرمنو حقونه محدود کړي او هغه برياوې په خطر کې اچوي چې په سختۍ سره د هغوي هڅو په لړ کې لاس ته راغلي دي چې د افغان میرمنو سره د تاوتریخوالی په ضد شوی دي.

۲۴. په نویو قوانینو کې دغه راز د ښځو په ضد د خشونت د ختمولو قانون هم شامل و. دغه قانون د ښځو د حقونو په ساتلو او پرمختګ کې یو ډېر مهم ګام دی. دغه قانون د ۲۰۰۹ په جولای کې د ولسمشر د فرمان له مخې ومنل شو او پارلمان باید هغه تصویب کړي. دغه قانون په ښکاره ډول جنسي تیری، دغه راز په کم عمر کې ودول او جبري ازدواج او د ښځو په وړاندې نور شکلونه په قانوني ډول جرم ګڼي. خو د ملي او بین المللي کتونکو تحلیل څرګندوي چې له تخنیکي پلوه ښایي قانون و نه شي کولای چې خپل زیات شمیر هدفونه لاسه ته راوړي. په ځینو تعریفونو کې چې د جنسیت په اړه بې طرفه حیثت لري، پیچلتیا او دغه راز موجوده قوانینو ته لکه د جزا قانون په نا کافي ډول اشارې، ښایي د دې قانون په تطبیق کې ستونزې راپیدا کړي. یوناما او د ملګرو ملتونو د نشه یې توکو او جرمونو دفتر دغه قانون په ټولیز ډول تحلیل کړي او له داخلي همکارانو سره یو ځای یې یو شمیر تعدیلونه وړاندې کړي دي چې ښایي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په مخنیوي کې ګټور ثابت شي. د دې لیکنې په وخت کې دغه وړاندیزونه په پارلمان کې تر غور لاندې وو.

۲۵. یوناما او آو ایچ سي ایچ آر په خپل راپور کې چیتیا خشونت دی: د افغان میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی بند کړئ، چې د ۲۰۰۹ په جولای کې خپور شو، دا موندلې ده چې د ښځو په وړاندې خشونت په شخصي او عامه ژوند کې په همغه ډول سره جاري دی او عمومیت لري. دغه ډول خشونت په ژور ډول په افغاني دودونو، روشونو او عملونو کې (لکه بد، د لانجو په خلاصولو کې د نجونو ورکول، د غیرت په نوم وژنې، په کم عمر کې او په جبری ډول ودول) ریښې لري چې دغه خشونت زېږوي او هغه ته مشروعیت هم ورکوي. د هغو مجرمینو د بخښلو کلتور چې ښځو سره خشونت کوي د دې معنی لري چې مجرمین په ندرت سره سزا وینی. د دې په نتیجه کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په ندرت سره د یوه جرم په څېر کتل کیږي، چې دا وضیعت په خپل وار سره هغه هڅې په جدي ډول متاثره کوي چې د تاوتریخوالی په ضد جاري وي.

۲۶. په عامه ژوند کې د ښځو ونډه اخیستنه کمه ده او په سیاسي ژوند کې د ښځو ګډون چې له خپلو حقونو څخه دفاع وکړي محدود پاتې دی. د مخ په زیاتیدونکی جګړې له امله نا امني چې په ټولنه کې د ښځو دنقش په باب دودیز روشونه ورسره یو ځای دی، دیرې ښحې له دې څخه بېزاره کوي چې د عام ژوند په ټولو برخو کې چې د دوي حق جوړیږي، پوره برخه واخلي. په دې ستونزو کې کار کول شامل دي، خصوصا هغه کارونه چې په دودیز ډول د نارینه وو کارونه

شمیرل کیږي او هغه اجتماعي نورمونه چې په دودیز ډول له حدودو څخه بهر شمیرل کیږی. هغه ښځې چې په عام ډګر کې ښه موقف او نوم لري، په معمول ډول په "غیر اخلاقي" خصلت باندې تورنې کیږي او دغه پیغام ډیر ځله د محافظه کاره مذهبي مشرانو له خوا، د هغو په ګډون چې په سیاست کې ګډون لري، لیږل کیږي. د ښځو په ضد حملې، تهدیدونه او بیروني په عام ژوند کې، په معمول ډول د حکومت ضد عناصرو په لاس ډیر ځله پیښیږي او په ډیرو مواردو کې بې له سزا څخه پاتې کیږی.

۲۷. ډیر امکان لري چې د افغان میرمنو او نجونو په ضد جنسي تاوتریخوالی همداسي له راپورونو څخه پټ پاتې شي. افغان میرمنو په مکرر ډول د دې راپور ورکړی دی چې د قانون د انفاذ او په قضایي چارواکو باندې باور نلري. د دوي په نظر دغه موسسی غیر موثر، بې فعالیته او په فساد اخته دي. د جنسي تیري بدنامي چې په مجرم نه بلکه په قرباني اچول کیږي، دغه راز د قربانیانو لپاره د عدالت یا جبران اخیستلو د هیڅ ډول امکان نه درلودل د دې باعث ګرځي چې جنسي خشونت د یوې رټل شوې مسالې په حیث پاتې شي چې نه د افغانستان د قانون د انفاذ ادارو او نه د افغاني ټولنې له خوا تر غور لاندې نیول کیږي.

**IV. انتقالي عدالت**

۲۸. د قانون د حاکمیت بیا ټینګول او له بشري حقونو څخه د سختو سرغړونو په وړاندې د معافیت ختمول په افغانستان کې د عدالت د تامین او د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره ډیر ضروري دي. د سولې، پخلاینې او عدالت د کاري پلان لپاره موده د ۲۰۰۹ په مارچ کې پای ته ورسیده او په دې پلان کې ډیر وړاندې شوې کارونه په ځای پاتې دي او سرته و نه رسیدل. د همغږۍ او څارنې ګډ هیئت، یو هیئت دی چې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د تطبیق مسوولیت لري په کوم کې چې د عمل پلان د یوه هدف په څیر ځای شوی دی، په دې کې پاتې راغلی چې دغه مساله حل کړي او و یې نه شو کولای چې په دې برخه کې جدي ګامونه پورته کړي او د بشري حقونو د پخوانیو او اوسنیو جرمونو په وړاندې یوه هر اړخیزه ستراتیژي په نظر کې ونیسی.

۲۹. د بشري حقونو سرغړونکی او مجرمین نه یوازې له معافیت څخه برخمن دي، بلکه د عامه دفترونو لپاره انتخاب شول. هغه هڅې چې نوماندان د بشري حقونو د ریکارډ په وړاندې د دوي د چلند په اساس و ارزول شي تر زیاتې اندازې شنډې شوې ځکه چې د افغانستان قضایي سیسټم په دې و نه توانیده چې د ټاکنود قانون (۱۴ مادی) شرایط پوره کړي. د دې معنی دا وه چې د پخوانیو جرمونو په اساس د نوماندانو مستردول د اساسي قانون په ۶۲ (۳) مادې پورې وتړل شو چې وایي: "د ولسمشرۍ لپاره نوماندان باید د محکمې له خوا د بشریت ضد جرمونو، جنایي عملونو یا د مدني حقونو څخه په محرومیت باندې محکوم شوی نه وي". د دې مادې حکم دغه راز د ولسمشر په مرستیال باندې هم تطبیق کیږی او ۸۵ ماده دغه حکم د پارلمان په غړو باندې هم د تطبیق وړ ګڼي. د پخوانۍ سابقې پلټلو د میکانیزمونو اصلاح کول د یوه ضرورت په حیث په هغه وخت کې وپیژندل شو کله چې داسي کسان د ټاکنو لپاره ودریدل او یا په حکومت کې د لوړو رتبو لپاره انتخاب شول، چې په وړاندې یې له بشري حقونو څخه د سختو سرغړونو تورونه موجود وو. د دوي موجودیت د ټاکنو د پروسې اعتبار او مشروعیت ته ډیر زیان ورساوه او د هیواد په راتلونکي دیموکراسي باندې سیورې وغوړاوه.

۳۰.   د ۲۰۰۹ په جولای کې د انتقالي عدالت د همغږۍ ګروپ چې د بشري حقونو له ۲۰ سازمانونو څخه جوړ شوی دی یوه ګډه اعلامیه خپره کړه او پکې یې د ولسمشرۍ له نوماندانو څخه وغوښتل چې د انتقالي عدالت د عمل پلان د ولسمشرۍ په ټاکنیزو هلو ځلو کې شامل کړي. ګروپ دغه راز، له کاندیدانو څخه وغوښتل چې له هغو اشخاصو سره مذاکرې و نه کړي چې د بشري حقونو په سرغړونو تورن دي. یوناما، له ټاکنو مخکې او له هغه وروسته په حکومت کې د دې ډول تورنو کسانو په موجودیت اعتراض کړی دی.

۳۱.   یوناما د حکومت او همدارنګه د قربانیانو د ډلو سره د انتقالي عدالت د اجنډا د پرمخ بیولو په برخه کې د ستراتیژیو د مشخص کولو په هکله کارکړی. یوناما او OHCHR د بیلګې په توګه د شفا ورکوونکو اوښکو په نوم د ویډیو د ویشلو په برخه کې چې د قربانیانو شاهدي هم په کې درج شوې کار کړی. د دې سربیره، یوناما او TJCG په ګډه د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې د مدني ټولنې د وکالتي مهارتونو د لوړولو پخاطر د بشري حقونو او عدالت د ودې په اړوند یو درې ورځنې ورکشاپ دایر کړ. یو شمیر استازیو د عمل د پلان د داخلي او نړیوال سیاسي ملاتړ د نه تشون په هکله ناهیلي څرګنده کړی او د عاجلې بیا کتنې لپاره یې وړانیدزونه وړاندې کړل څو د خاصو کلیدي عملونو په هکله د ځانګړی تاکید او د اجنډا د له سره نوی کولو لکه د بررسي او عدالت اصلاحات او د قانون د حاکمیت تقویت ته پاملرنه وشي.

۳۲.   یوناما د قربانیانو د ډلو د جوړولو، په خاص ډول په مرکزي جګو سیمو کې د یکاولنګ د قربانیانو د انجمن د جوړیدو ملاتړ کړی او د انتقالي عدالت د پروسو د درک لپاره یې تخنیکي ملاتړ برابر کړي.

۳۳.   د ۲۰۰۹ کال په دوران کې د یوناما د کار په اړه مهم تمرکز د ډله ییزه قبرونو د مسالی معلومول و. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې نږدې ۲۰۰ ادعا شوې ډله ییزه قبرونه ثبت کړی دي، خو تر اوسه د دغو ساحو د ستانې لپاره هیڅ ډول موثره سیستم، او رسمي اداره موجوده نه ده څو وکولای شي داسې سیمې وساتي او په هکله یې څیړنې ترسره کړي خو پدې هکله یې تر اوسه کوم پریکنده تصمیم ندی نیولی. د یوناما، کورنیو چارو د وزارت او د کورنیو چارو د وزارت د جنایي څیړنو د ریاست ترمنځ د لاسلیک شوی تفاهم لیک د تعقیب د یوې برخې په حیث، چې په ۲۰۰۷ کې لاسلیک شو یوناما د جنایي څیړنو ریاست د یو شمیر غوره شویو ګمارل شویو کارکوونکو د بحث وړ ظرفیت د لوړولو پخاطر روزنې برابرې کړي دی.

۳۴.   یو شمیر ننګونو د ډله ییزه قبرونو د ساتنې کار د محدودیت سره مخ کړ خو د ۲۰۰۹ کال په اپریل کې یوناما د OHCHR په مالي مرسته او ملاتړ د بشري حقونو لپاره د عدلي طب د یوه ماموریت لپاره اسانتیاوې برابرې کړي ترڅو د هغه قبر په هکله کوم چې د کورنیو چارو د وزارت په انګړ کې رابرسیره شوی ابتدایي ارزونې ترسره کړي. د همدغې تجربې په تعقیب، یوه پروژه چې موخه یې په افغانستان کې د عدلي طب ظرفیت لوړول وه: "د افغانستان د تیر وخت ساتنه: د انتقالي عدالت او د دیالوګ د پرمختګ لپاره د عدلي طب پروګرام" د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ته وسپارل شوه چې بیا د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې تصویب شوه.

۳۵.    په افغانستان کې ډله ییزه قبرونه د له منځه تلو په خطرکې واقع دی. د هغو څلورو ډله ییزو قبرونو له جملې څخه چې په ۲۰۰۹ کې د بامیانو، کندز او کابل په ولایتونو کې رابرسیره شول په دریو ډله ییزه قبرونو کې لاس وهل شوې دی. په یو شمیر مواردو کې، د قربانیانو کورنیو د هر ډول رسمی نظارت اوکنترول نه پرته د احتمالي خپلوانو پاتې شونې سپړلی دی. په ځینو نورو مواردو کې، تورنو مرتکیبینو او د هغوي غښتلو ملاتړو د دغو جرمونو سره تړلی شواهد له منځه وړي. د ۲۰۰۹ په جولای کې د متحده ایالاتو د اداري له خوا د طالبانو د جنګی اسیرانو د وژل کیدو د تورونو په اړه د امریکا پلوه شمالي ټلوالي له خوا د ۲۰۰۱ په وروستیو کې د دشت لیلی په سیمه کې د پلټنې امر وکړ. پي ایچ آر د ډله ییزه قبرونو د قصدي له منځه وړلو او د جګړې د جرمونو د شواهدو د له منځه وړلو په اړه لا د مخه راپورونه ورکړي دي.

۳۶.    د راپور شوي دورې په دننه کې، د ملي پخلاینې د مسلې په هکله خبرو اترو دوام درلود څو د افغانستان د ټیکاو او تامین د ستراتیژی د یوې برخې په حیث اعتدال خوښوونکی طالبان خبرو اترو ته وهڅوي. خو د وسله والو مخالفینو سره د خبرو اترو هر ډول پروسه باید د افغانستان د اساسي قانون د اصولو او هغو ژمنو سرهچې د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو او عنعنوي بشري حقونو د قانون کوم چې د سترو جرمونو لپاره معافیت له منځه وړي سرچینه اخلي، په بشپړه توګه سمون ولري.

## V. نیستي او بشري حقونه

۳۷.    افغانستان د نړی په کچه د نیستمنو هیوادونو له جملې څخه یو دی، د یوه اټکل له مخې د افغانستان د وګړو ۳/۱ برخه په سختې نیستی کې ژوند کوي او نور ۳۷ سلینه دنیستی د کرښې څخه لږ څه لوړ ژوند لري. افغانستان د بشري انکشاف په لاربنود/فهرست کې د ۱۷۸ هیوادونو له جملې څه ۱۷۷ هیواد دی. نیستي یوه پیچلې او څو اړخیزه ستونزه ده چې د بیلا بیلو فکټورونو لکله شخړو، کمزوری حکومتداری، د قدرت څخه د ناړی استفادې، د حساب ورکونې د نه شتون او د ښځو په وړاندې د تبعیض د څو اړخیزه فکټورنو څخه رامنځ ته شوي.

۳۸.    بې وسه افغانان د سرچینو، انتخاب، امنیت او هغه قدرت او صلاحیت چې د هغوي د بشري حقونو څخه د برخمن کیدو لپاره ضروري دي، په پرلپسې ډول محروم دي. اړتیا لیدل کیږي چې د نیستي د کچې راکښته کول، د قدرت او صلاحیت په نا برابره جوړښتونو او ادارو، د تصمیم نیولو په پروسو، د شمولیت او انتخاب لپاره په فرصتونو، د سرچینو په مساوي اختصاص او ښه امنیت باندې تمرکز وکړي. د بشري حقونو څخه محرومیت د افغانستان د ماشومانو د مرګ مړینې د لوړ میزان او د ټیټ ژوند د توقع او د روغتیا پالنې په سکتور کې د لږ تر لاسه شوی پرمختګ له لارې څرګندیدلای شي. پدې حواله، افغانستان د نړی په کچه د میندو د مرګ د دویم لوړ میزان څخه برخمن دی (د نړدې ۱۰۰۰۰۰ زیږدونو پر سر ۱۶۰۰ مړینې) او د دې ښکارندویی کوي چې روغتیایي سیستم د ښځو لپاره د پاملرنې د چارو په برابرولو کې پاتې راغلی دی.

۳۹.    د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژی د بشري حقونو د مشخصولو په ترڅ کې سیاسي او مدني حقونو باندې د تمرکز کولو له لارې دې حقونو ته لږه پاملرنه کړې ده. د افغانستان تړون لیک، د افغانستان په هکله د ۲۰۰۶ کال د لندن د کنفرانس پایلو د راتلونکو ۵ کلونو لپاره د

افغانستان لپاره د نړیوالې همکارۍ چوکاټ رامنځ ته کړ. که څه هم چې بشري حقونه د حکومت کولو او د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې ځای شول، خو په دې و نه توانېدل چې د بشري حقونو هغه ماهیت درک کړي چې په ټولو ساحو، خاصتا د اقتصادي او اجتماعي پراختیا په ډګر کې نقش لري. په ورته ډول، د بشري حقونو په اړه د افغانستان د ترن لیک معیارونه سیاسي او مدني حقونو ته متمایل دی د کومو له مخې چې د پرمختګ د کچې اندازه لګول کیږي، په داسي حال کې چې د اقتصاد او ټولنیز انکشاف په ستنه کې هدفونه کوم چې د بشري حقونو سره ارتباط لري د قانوني استحقاق په حیث نه دي ترتیب شوي.

۴۰. د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې د افغانستان د ملګرو ملتونو هیوادني ټیم د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۳ کلونو لپاره د ملګرو ملتونو د انکشافي مرستې چوکاټ پرانیست. د بشري حقونو لرلیدونو د لومړیتوب په هرو دریو ساحو یعنی (۱) حکومت کولو، سولې او ټیکاو (۲) پایداره معیشت او (۳) اساسي ټولنیزو خدمتونو کې د ملګرو ملتونو د انکشافي ننګونو تحلیل لارښونه کړې چې د UNDAF لخوا تر پوښښ لاندې نیول شوي. UNDAF د بشري حقونو له نظره د پرمختګ درک کولو په بیا تمرکز لپاره یو فرصت برابروي څو په ټولنیزو او اقتصادي حقونو کې داسې حقونه لکه د زده کړې او روغتیا حقونه شامل کړی. UNDAF ته دا جوته شوې چې د معلوماتو راغونډول یوه کلیدي ستونزه ده او دا لږ تر لږه د جنسیت، عمر، او د وګړو د خاصو ډلو په اساس د دې لپاره راغونډ شوي ترڅو دا جوته کړي چې څوک زیانمنونکي او منزوي دی. د بشري حقونو پر بنسټ د روش د حساب ورکوني او رونوالی د اصولو په مطابقت کې، ملګري ملتونه د حکومت د هڅو ملاتړ کوي چې د مختلفو کټګوریو په اساس معلومات راغونډ کړي ترڅو د دا ډول معلوماتو څخه تر لاسه شوي پایلې د پالیسۍ او راتلونکو پروګرامونو په برخه کې وکارول شي.

۴۱. آو ایچ سی ایچ آر په ۲۰۰۹ کال کې په دوو خاصو ساحو کې د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم سره همکاري کړی. د همکاریو لومړی ډګر د نظارت د کمیټو په خاص ډول د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د کمیټې ته د راپور ورکولو د پروسې په برخه کې د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم ښکیلتیا ده. د دولت د اړخ راپور به د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د کمیټې د ۲۰۱۰ کال د مې د میاشتې په غونډه کې تر بحث لاندې ونیول شي. د همکاریو د ویم ډګر د ملګرو ملتونو د خاص راپور ورکوونکی د پوښتنو په اړه د خوراکي موادو د حق په اړوند د نړیوال خوراکي بحران په اړه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نمایندګیو په هکله دي. په مثبتو تدبیرونو کې د غذایي مصونیت د حالت د نقش ښه کول او همدارنګه د حکومت له اړخه د ملي خطر د زیانمنتوب ارزونه چې د غذایي مصونیت له لحاظه د نا امنو کورنیو معلومول دي، مالکیت تر لاسه کړی. په ۲۰۰۹ کې د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالی سربیره، غذایي نه مصونیت لا هم په ډیره جګه کچه کې قرار لري. اړتیا لیدل کیږي چې د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالی څخه جامع تمرکز هغو لارو چارو ته راوګرځول شي او داسې وسیلو ته لاس رسي پیدا شي څو خوراکي توکي وپیري. د مناسبو خوراکي توکو د رانیولو په برخه کې کلیدي موانع درې ګوني دي: د بدیل معیشت د انتخابونو نه شتون، د ځمکو پر سر شخړې، چې موجوده ځمکو ته لاس رسي له ستونزو سره مخ کوی او په پای کې د رسمي ټولنیزو ساتندویه شبکو نه شتون.

۴۲. د غذا د حق په اړوند په ملي ستراتیژیو، لکه افغان ملي پرمختیایي ستراتیژي، د ملي روغتیا او تغذیې ستراتیژي یا د کرنې د انکشاف په ملي چوکاټ کې په ښکاره توګه دا حق ندی ځای شوي، که څه هم چې د کفایت او موجودیت او شته والی ځینو عناصرو ته ځواب ویل شوی

دی. د غذا حق د افغانستان په اساسي قانون کې هم د یوه تعهد په حیث په ښکاره توګه ندی ځای شوی. د حکومت له خوا د ملي پالیسیو د ملکیت په هکله او په مرستو باندې د حکومت د زیاتې اتکاء په هکله زیاتې اندیښنې راپورته شوې.

۴۳. د یوناما او OHCHR یوې سروې چې د غذا د حق په اړه په ۲۰۰۹ کال کې ترسره شوې دا موندلې چې په نسیتمنو ټولنو کې کافي غذا ته لاس رسي په وار وار د هغو اړیکو له امله چې د واک او صلاحیت سره تړاو لري، متاثره شوی دی. د خوراکي مرستو په ویش کې فساد د هغو کسانو لپاره لاس رسي د محدودیت سره مخ کوی چې نشي کولای رشوت ورکړی یا د دې لپاره خوراکي توکي نشي تر لاسه کولای ځکه چې د خوراکي توکو مسیر بل طرف ته اړول شوې دی. د ښځو او نارینه وو ترمنځ روښانه توپیر موجود و، کافي غذا ته د لاس رسي په حواله، ښځې په نا مناسبه او منفي توګه تر فشار لاندې نیولی شوې.

۴۴. دغو لاسته راوړنو او نورو اضافي څیړنو په افغانستان کې د بشري حقونو د اهمیت او ابعادو په هکله د یوې جامع او پراخې څیړنې سره مرسته کړې. دغې څیړنې دا خبره په ډاګه کړې چې د صلاحیت او واک څخه ناوړې استفادې د هغو افغانانو ژوند چې په خورا شدیده نیستي کې ژوند کوي د هغوي د منزوي کیدو او کمزوری کیدو په برخه کې مهم فکټور دی. په مختصر ډول، نیستی تصادفي او یا حتمی الوقوع نه بلکه تر زیاتې اندازې په دې پورې تړلې ده چې څنګه افغاني ټولنه تنظیم، سرچینې اختصاص او کارول شوي او یا د پریکړې نیونکو حساب ورکولو ته حاضریږي.

**VI. په دموکراسی کې کمبود یا کسر**

**الف. ټولټاکنې**

۴۵. د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنې د مخ پر خرابیدونکی امنیتي وضیعت، د ښځو د بشري حقونو د سرغړونو او په ټولټاکنو کې د زیاتو درغلیو سربیره پداسې حال کې ترسره شوې چې د ټولټاکنو د پروسې او د ټول ټاکنو د پروسې د پایلو مشروعیت یې له ګواښ سره مخ کړ. د ټول ټاکنو په پروسه کې د افغانانو ښکاره لیوالتیا د ټول ټاکنو د کمپاین په دوران کې هم تر سترګو شوه او همدارنګه د رای ورکولو په ورځ هم د ګډون کچه د اټکل سره ښه وه. د یوناما د دفتر د بشري حقونو څانګې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سره د سیاسي حقونو د نظارت یعنې د ټول ټاکنو د پروسې ،د نوماندې د پړاو، کمپاین د دورې او رایې ورکولو د ورځې او شمیرنې د پروسې په برخه کې د دریو راپورونو په جوړولو کې کار او همکاري وکړه.

۴۶. د نوماندی او چیلنج کولو دورې د ټول ټاکنو د قوانینو او مقرراتو سره اجابت وکړ او د تیار شوی مهال ویش سره سم پرمخ ولاړی. د کمپاین کولو موده تر زیاتې اندازې په ښه توګه ترسره شوه او خوځنده سیاسي خبرې اترې یې راوپارولې. د ټول ټاکنو د تیرې دورې په پرته دا وار زیاتو نوماندانو د ټول ټاکنو لپاره ځانونه نومولي وو. په خاص ډول د تیرو ولایتي شوراګانو د ټول ټاکنو په پرتله، د ولایتي شوراګانو د ټول ټاکنو لپاره د ښځینه نوماندانو په شمیر کې ۱۰ سلینه زیاتوالی راغلی و چې د تیرو ټول ټاکنو په پرتله ۲۰ سلینه زیاتوالی په ډاګه کوي.

۴۷. دغه وضیعت د ټول ټاکنو د اړندو وژنو، بریدونو او ګواښونو له امله چې اساسا د دولت ضد عناصرو او نا څرګندو مرتکبینو لخوا د نوماندانو، مدني روزونکو او ټول ټاکنو د چارواکو په وړاندې ترسره شو، تفاوت ښکاره کوي. نا امني همدارنګه د خوځښت ازادې محدوده کړې او د نوماندانو او د هغوي د ملاتړو د بیان آزادې یې هم د اجبار سره مخامخ کړې، هغوي و نه کړای شوای چې په ازاده فضا کې په عامه غونډو کې ګډون وکړي او د رایو د راغونډولو لپاره د خپلو انتخاباتي حوزو څخه رایې راټولې کړي. دغو محدودیتونو په خپل وار سره د شرکت کولو او په سوله ییزه توګه غونډو کې د ګډون آزادي د پام وړ محدودیت سره مخ کړه.

۴۸. په ازمایښتي میکانیزمونو کې د نیمګړتیاوو له امله داسې تصور رامنځ ته شو، هغه نوماندان چې د شکمنو وسله واله ډلو سره اړیکې لري د نوماندانو د نهایي لست څه ګوښه نه کړل شول. د دې سربیره، د عدالت کمزوری سیسټم و نه کړای شول هغه کسان چې ګمان کیده د جدي جرمونو مرتکب دي قانون ته راکښ او محاکمه کړي.

۴۹. د ټول ټاکنو ورځ، د ۱۵ کلونو په ترڅ کې د نږدې ۳۰۰ امنیتی پیښو شاهده وه. په دغو امنیتي پیښو کې د رایې ورکولو او افغان امنیتي ځواکونو په مرکزونو راکیتي بریدونه، IEDs ، د کمې درجې پوځي شخړې او دفاعی بریدونه شامل وو چې د هیواد په جنوب، جنوب شرق او د مرکزي سیمو او شمال شرقي سیمې په یو شمیر برخو کې ترسره شول. د ټول ټاکنو په ورځ یوازې ۳۱ تنه ملکي وګړي چې د ټول ټاکنو ۱۱ کارکوونکي هم پکې شامل وو ووژل شول.

۵۰. یو شمیر زیاتو افغانانو د نا امنی له امله و نه کولای شول چې خپلې رایې وکاروي. په عامه ادارو د بې باوري او نا رضایتي له امله، د راجستر شوې رایې ورکوونکو یوازې ۱/۳ برخه د رایې اچولو صندوقونو ته ولاړل او دا د ۲۰۰۴- ۲۰۰۵ کلونو د ټول ټاکنو په پرتله ډېر کم شمیر وه. د رایې ورکوونکو ګډون د سیمو په پرتله توپیر درلود: په جنوبی او جنوب شرقي سیمو کې د شخړو له امله د خلکو ګډون کم رنګه و، خو بیا په مرکزي سیمو، شمالی، غربي شمال شرقي سیمو کې د امنیت له امله د خلکو ګډون ښه و. د نوماندانو په انتخاب کې د رایې ورکوونکو ازادي، د نوماندانو، د هغوي د فعالینو، سیمه ییزو قومندانانو د رفتار او همدارنګه د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ځینو چارواکو، او حکومت له خوا د محدودیت سره مخ شوه او رایې ورکوونکو ته د رایې ورکولو په مرکزونو کې ګواښونه وشول.

۵۱. د ښځو د رایې ورکولو حق او حکومتي مقام ته د دریدلو حق د ټولنیزو او کلتوري نورمونو او نا امنه چاپیریال له امله ډیر محدود و. ځینې ښځینه نوماندانې د مرګ د ګواښ سره مخ شوې او نورې بیا په یو شمیر محافظه کارو سیمو کې پدې ونه توانیدې چې د کمپاین په موخه د خپلو کورونو څخه راووځي او د رایې د راغونډولو لپاره تر خپلو کورونو پورې محدودې شوې وې او د عکسونو پر ځای یې سوداګریز کارتونه (Business Cards) کارول. ښځو همدارنګه د خپلو کمپاینی فعالیتونو لپاره کمې سرچینې درلودلې. د رایې ورکولو په ورځ د رایې ورکولو په مرکزونو کې د نارینه وو په پرتله د ښځو ګډون کم رنګه و. په عامه ژوند کې ښځو د ګډون په هکله ګواښونه، ځورونې او بریدونه، د شیعه ګانو د شخصي احوالو د تبعیض امیزه قانون چې د ټول ټاکنو څخه وړاندې نافذ شو په افغاني ټولنه کې د ښځو په وړاندې د ممانعت بیلګې دي.

۵۲.    زیاتره عامه غونډې په ولایتي مرکزونو کې ترسره شوې او د افغانستان د راډیو تلویزیون لخوا ولسمشریزو کاندیدانو ته نا مساوې ډله ییزه پوښښ ورکړل شوې و. د ملي امنیت ریاست د ډله ییزه رسنیو داخلي او نړیوالو نمایندګیو ته حکم وکړ څو د رایې ورکولو په ورځ د شخړو او خشونت د راپور ورکولو څخه ډډه وکړي او د رایې ورکولو په ورځ یی یو شمیر خبریالان ونیول او په ډله ییزه رسنیو محدودیت وضع شو.

۵۳.    د اګست د میاشتې د ۲۰ نېټې د ټول ټاکنو لپاره د درغلیو د کمولو د یو شمیر تدبیرونو او د هیواد په کچه د خپلواکو کتونکو د ګمارلو سربیره، د درغلیو ادعاوې ډیرې وې. پدې ادعاوو کې په صندوقونو کې د رایو اچول، متعدد کارتونه کارول، او د چا په استازیتوب رایې ورکول شامل وه. د نا امني له امله کتونکو ونه کوالی شوای چې د جنوب، جنوب شرق، شرق او مرکزې سیمو د رایې ورکولو د یو شمیر مرکزونو څخه لیدنه وکړي او له دغو مرکزونو څخه د درغلیو ډیر شکایتونه راغلي دی.

۵۴.    زیاتې نا امني، پراخو درغلیو او د پایلو د اعلانولو دوامداره ځنډولو د ۲۰۰۹ کال د ټول ټاکنو سپیڅلتوب د ګواښ سره مخ کړ او د ټول ټاکنو په پروسې او افغان حکومت باندې یې د افغانانو اغفال لا هم زیات کړی. د رایې ورکوونکو او نوماندانو زیات شمیر ټول ټاکنو او د هغوی پایلو ته د اعتبار په سترګه نه ګوري. زیاتره رایې ورکوونکې، په خاص ډول ښځې په دې لړ کې د رایې او انتخاب له حق څخه محرومې شوې.